# په متحده ایالاتو کې استوګنځایونه





**په متحده ایالاتو کې استوګنځایونه ډېري بېلابېلې بڼې لرل ای شي** کله چې تاسې په لومړي ځل متحده ایالاتو ته ور سپېرۍ، کېدای شي تاسو په یوه اپارتمان کې، په هوټل کې ، او یا د خپلوانو سره چې دلته مخکې نه اوسیږي، پاتې شئ که تاسې یوازې ورسپېرۍ، کېدای شي وکولای شئ د هغو کسانو سره استوګنځای پیدا او شریک کړئ چې تازه را رسېدلي وي، تر څو د استوګنې د لومړني لګښت اندا زه راکمه شي.

## د استوګنې لګښتونه




په متحده ایالاتو کې استوګنه ګرانه ده او د اوسېدو لپاره د ځای پیدا کول ستونزمن کېدای شي. ډېری وخت خلک کورونه یا اپارتمانونه په کرایه نیسي. د استوګنې لګښتونه د ایالت، ښار او ګاونډیتوب له مخې ډېر توپیر لري. هر چیرته چې اوسېږئ، د استوګنې لګښت به غالباً ستاسې تر ټولو لوی میاشتنی مصرف وي.

switchboard
connecting resettlement experts

SettleIn

## د استوګنې لپاره مرسته

په متحده ایالاتو کې د استوګنې مرسته محدوده وي او ډېرى وخت د انتظار لستونه
لري. دغه پروګرامونه معمولاً د ایالت یا سیمه ییزو دولتي ادارو لخوا اداره کېږي، لکه د عامه استوګنې ادارې، او کله
ناکله د غیر انتفاعي سازمانونو لخوا هم پرمخ وړل کېږي. که تاسي مرستې ته اړتیا لرئ، کولای شئ له خپلې سیمه ییز
ې د عامه استوګنې ادارې سره اړیکه ونیسئ او یا له کوم ټولنیز سازمان سره چې د نوو راغلو سره مرسته کوي.









د استوګنې د مرستو پروګرامونو لپاره د شمولیت شرایط
توپیر لري، او غوښتونکي باید د عاید ځانګړي معیارونه
پوره کړي تر څو ور وګرځېږي. که ستاسي عاید محدود و
ي، نو ستاسي لومړی کور په متحده ایالاتو کې بنایي ټولې
ستاسي غوښتنې پوره نه کړي، لکه د کور اندازه د کورن
ۍ لپاره، د کار یا ټولنې نږدې موقعیت، او یا د ارزانه وال
ي شرط. په وخت تېرېدو سره، لکه څنګه چې ستاسي حال
ت ښه کېږي، کېدای شي تاسي وکولای شئ داسي کور وټا
کئ چې ستاسي اړتیاوې ښه پوره کړي.

## د کور ضروري سامانونه

د کور د سامان برابرول ستونزمن کېدای شي، خو په متحده ایالاتو کې د نوو راتلونکو او راغلو لپاره بېلابېلې لارې او
سرچینې شته. پدې کې د سامانونو بانکونه، ارزانه کارېدلي دوکانونه، انلاین بازارونه، او ټولنیز یا غیر انتفاعي سازما
نونه شامل دي. دغه سازمانونه له ښاره تر ښار توپیر لري، نو د خپلې سیمې د امکاناتو لټون کول به د دې لګښت د
راکمولو لپاره مهم

وي. په یاد ولرئ چې ډېرى ستاسو د کور لومړني توکي شاید مستعمل وي. کله چې ثابت عاید ولرئ، کولای شئ داسي
توکي وټاکئ چې ستاسو د خوښې او بودیجې سره ښه برابر وي.

## د استوګنې حقوق او مسؤلیتونه

متحده ایالاتو کې هم کرایه‌دار او هم د کور څښتن حقوق او مسؤلیتونه لري. کله چې تاسې یو اپارتمان یا کور په کرایه نیسئ، نو باید یو تړون چې‘لیس’ نومېږي، لاسلیک کړئ. په دغه لیس کې تاسې د کرایه‌دار په توګه یادېږئ، او منئ چې د ټاکلي مودې لپاره کور په کرایه واخلئ، کرایه او د کور خدمات په خپل وخت ورکړئ، او د کور ساتنه وکړئ.

په همدې وخت کې، تاسې د کرایه‌دار په توګه مهم حقوق لرئ. دا کېدای شي لاندې شامل وي:

- په یو خوندي او د اوسېدلو وړ کور حق
- د کرایې د لوړوالي یا د ایستلو څخه مخکې د لیکلي خبرتیا ترلاسه کولو حق
- د خپل لیس تړون د لوستلو او درک کولو حق د لاسلیک کولو مخکې
- د ناامنو یا د روغتیا لپاره زیانمنو حالاتو د ترمیم غوښتنې حق
- د خپل د امنیت د زېرمې بېرته ترلاسه کولو حق، د هر قانوني کسر وروسته
- د محکمې د عادلانه پروسې حق مخکې له دې چې له کوره وایستل شئ

که تاسې کومې پوښتنې یا اندېښنې ولرئ، نو کولای شئ له خپلې سیمه‌یزې د استوګنې ادارې، د قانوني مرستو له دفتر، یا له داسې ټولنیز سازمان سره اړیکه ونیسئ چې د کرایه‌دارانو ملاتړ کوي.






## د کور د ښبنتن مسؤلیتونه

د استوګنې قوانین پر کور ښبنتنانو او کرایه‌دارانو دواړو پلي کېږي. کور ښبنتنان باید وګوري چې د دوی استوګنځایونه د کرایې لپاره د خوندیتوب او د حفظ الصحې ځانګړي معیارونه پوره کوي. د کور ښبنتن مکلف دی چې برېښنایي، د اوبو پایپونه او د تودوخې سیستمونه په ښه حالت کې وساتي. هغوی باید د لوګي خبر ورکوونکي برابر کړي او په دې مطمین اوسي چې موږکان یا حشرات شتون ونه لري. د استوګنې قوانین دا هم وايي چې د کور ښبنتنان نشي کولای د خلکو د نژاد، ملیت، مذهب، جنس، کورنۍ حالت، یا فزیکي او ذهني وضعیت له امله د کور په کرایه ورکولو کې مخا لفت وکړي







## کډه کېدل

که تاسې د کډه کېدو پرېکړه وکړئ، نو اړ یاست چې د خپل لېس تړون له مخې خپل کور ښبنتن له مخکې خبر کړئ. د هغه لېس تړون ماتول چې تاسې لاسلیک کړی دی(یعني د لېس د مودې تر ختمېدو مخکې له اپارتمان څخه وتل) کېدای شي د جریمې لامل شي او ستاسې د کریډټ درجې ته منفي اغېزه ورسوي. کډه کېدل ګران تمامېږي، نو مطمین اوسئ چې د خپل لېس د ختمولو مخکې د هغې لګښت پرې کولی شئ.

کله چې تاسې نوې پتې ته کډه وکړئ، دا ډېره مهمه ده چې هم د متحده ایالاتو حکومت او هم د امریکا د پوستي خدمت یعني

USPSته خبر ورکړئ. دا کار مرسته کوي چې تاسې خپل مهم لیکونه ترلاسه کوئ او ستاسې د کډوالۍ ریکارډونه تاز ه پاتې شي. که تاسې د عامه مرستو لکه SNAP یا

Medicaidترلاسه کوئ، نو د کډه کېدو پر وخت باید اړوند ایالتي ادارو ته هم تازه معلومات ورکړئ.

switchboard
connecting resettlement experts

SettleIn



## یو ښه ګاونډی کېدل

په متحده ایالاتو کې ښه ګاونډی هغه څوک دی چې د خپ لو شاوخوا خلکو خیال ساتي. که تاسې په اپارتمان کې او سېږئ، نو باید عامه ځایونه پاک وساتئ. که تاسې په کور کې اوسېږئ، نو باید خپل انګړ پاک وساتئ او کثافات یو ازې د کثافاتو د راټولولو په ورځو کې بهر کېږدئ.



ښه ګاونډی کېدل دا معنا لري چې د شپې باید شور او غږونه تر ټولو لږ او ټیټ وساتئ، تر څو خپل ګاونډیانو ته مزاحم نه شئ. په نوې ټولنه کې د نوي کور جوړول اسانه نه دي او ښایي له هغه څه سره توپیر ولري چې تاسې ورته عادت یاست. د وخت، حوصلې او ملاتړ په مټ تاسې کولای شئ له خپل نوي چاپېریال سره عادت شئ او داسې کور جوړ کړئ چې پکې ځان خوندي او آرام احساس کړئ.

## د Settle In په اړه

Settle In د هغو معلوماتو لپاره ستاسو د باور وړ سرچینه ده چې باوري، فوري، اړوند او د نوو راتلونکو کسانو لپاره د پوهېدو وړ وي او د متحده ایالاتو په اړه لارښوونه کوي. د Settle Inپه اړه لارښوود په بېلابېلو ژبو شتون لري او د دې ډیجیټلي پلیټفارمونه د هغو کسانو لپاره بنسټيز معلومات، لارښووني او څو ژبه بیز ملاتړ وړاندي کوي، ترڅو نوي راتلونکي کسان وکولای شي په

## د Switchboard په اړه

Switchboardد متحده ایالاتو د کډوالو د خدمتونو وړاندې کوونکو لپاره یوې ټولې ګډيزې سرچینې مرکز دی او د بیا مېشتوني اړوندو موضوعاتو په اړه وسایل، د زده کړې فرصتونه او تخنیکي مرسته وړاندي کوي.

Switchboard د ORR لخوا تمویل شوی، د IRC له لوري پلي کيږي.

IRC د متحده ایالاتو د روغتیا او بشري خدمتونو وزارت، د ماشومانو او کورنیو اداري له لارې د سیالی پر بنسټ، تر #0053RB90.ګرانټ شمېره لاندې تمویل ترلاسه کړ. دغه پروژه 100% سلنه د فدرالي بودیجې له خوا تمویل شوې ده.

د دې سند منځپانګه یوازې د لیکونکو مسؤلیت دی او ضروري نه ده چې د متحده ایالاتو د روغتیا او بشري خدمتونو وزارت، د ماشومانو او کورنیو اداري رسمي نظرونه منعکس کړي.